# د سکیم د استعمال کوونکو لپاره لاښود

د لوکاټا سره پېژندګلوي– په وېسټ لنډن کې د یوهَ نوي کور په لټولو کسی ستاسو سره مرسته سکیم څنګه کار کوي

زه څنګه د لوکاټا غړی کېدای شم؟

د مساواتو په اساس رسېدنه – کومه مرسته راته برابره شي؟

که زه د سرېټوني په هستوګنځي کښی اوسېدل غواړم نو څه به وشي؟

که زه د صحت او یا د دماغي صحت کوم تکلیف لرم، نو څه به وشي؟

که زما په کورنۍ کښی څوک د خوځېدنې مشکلات لري نو څه به وشی؟

که زما حالات بدل شی، نو څه به وشی؟

زه څنګه د یوهَ کور د پاره بولۍ ورکولای شم؟

زه په خپلو بولیو څنګه عکس العمل معلومولی شم؟

د نوي کور په غوره کولو ته پنځه ګامونه

د هستوګنځو د پاره کوم کوم نور بدلونه دي؟

## د لوکاټا پېژندګلوي – په وېسټ لنډن کې د يوهٔ نوي کور په لټولو کې ستاسو سره مرسته

د کور په لټولو کې د انتخاب د مواقعو د پاره د برېنټ، ايلنګ، هېمرسمته او فلهم، هېرو، هلنګډن او د هونسلو کونسلونه اوس د لوکاټا څخه کار اخلی. او د ايلنګ فيملی، پېراډايم هاوسنګ، پي سي ايچ اې، ټېمز وېلی، اېکټن هاوسنګ، شېپهېلډز بش او د سټېډيم هاوسنګ ايسوسی ايشن همداسی کوي.

لوکاټا تاسوته د هستوګنې د ځای د انتخاب په باب نورې مواقعې برابروي. په ماضی کې کونسل دا تصميم نيو چې تاسوته چېرته او کله د يوهٔ کور پېشکش وکړی شی. اوس ستاسو به د انتخاب موقعه برابره شی.

د موجوده کونسل او د هاوسنګ ايسوسی ايشن کرايه داران چه د يوهٔ نوي کور ته خوځېدل غواړي، د نوي کور د لټولو د پاره د لوکاټا څخه کار اخستی شی. پدی کښی د کورونو غوښتو نکي هم شامل دي. هغه خلک چه نومونه يې د هاؤسنګ په رجستر کښی ثبت دي او يا خو بې کوره دي.

د لوکاټا له خوا هرې دوې اونۍ يوهٔ وېړيا مجله خپروله کيږي چه نوم يې 'Locata HOME' ('لوکاټا هوم') دی او ورکښی د کونسل او د هاوسنګ ايسوسی ايشن د هغو ټولو کورونو ذکر کيږي چه د خلکو لپاره برابر دي. تاسو د اشتهارونو په کتلو دا تصميم نېولی شئ چه تاسو غواړئ چه د کوم جائداد د پاره ستاسو په نوم غور وکړی شي. تاسو د بولۍ په ورکولو په جائدادونو کښی خپله دلچسپي څرګندولی شئ. د دغه سکيم د لارښود په لنډيز کې تاسو کتلی شئ چه څوک د دغو جائدادونو په باب بولۍ ورکولای شی او څنګه.

د يوه نوي کور د اخستلو لپاره ضروری ده چه تاسوپه 'Locata HOME' کې بولی ورکړئ. د لوکاټا په سکيم کې د کونسلونو او د هاوسنګ ايسوسی ايشنونو له خوا هغو خلکو ته جائدادونه نه برابرول کيږي چه بولۍ يې د لوکاټا تر سکيم لاندی ورکړې نه وي.

لو کاټا تاسو ته د هستوګنې د غوره کولو د پاره زياتې موقعې برابروي. او تاسو ته دا ښه فکر هم برابروي چه ستاسو په سېمه کسی کوم کوم جائدادونه شته دي.

**دا سکيم څنګه کار کوي**

د لوکاټا د سکيم له کبله دا کونسل يا هاوسنګ ايسوسی ايشن نه دی چه ستاسو د پاره کوم کور ولټوي او په نښه يې کړي؛ او ددې په ځای تاسو د 'Locata HOME' ، د مجلې په استفاده کولو د خپل ځان لپاره کور موندلی شئ.

په کار راتلونکو کورونو د پاره اشتهارونه ورکول کيږي:

- د 'Locata HOME' ، په نامه زمونږ په وېړيا مجلې کښی چه په عمومی ډول د هرې دوې اونۍ په موده کښی خپريږي. په بېلو بېلو ځايونو کښی موند له کيږی لکه چه د هاوسنګ دفترونه، د اجتماعی خدمتونو دوترونه، داو طلبانه انجمنونه او په انډيوالی کښی د ښپړو بروګانو عمومی کتابخانې. ستاسو له خوا د ګډون د ببعی په ورکولو مونږ د 'Locata HOME' تاسوته مستقيماً د پوستې په واسطه هم دراستولی شو.

- دا زمونږ په ویب سائیټ www.locata.org هم برابره ده

تاسو په هره ګڼه کسی د یوهَ کوپون په ډکولو زیات تر زیاته د دریو جائدادونو لپاره بولی ورکولای شئ (دغه کوپون به تاسوته برابر کړی شی). تاسو بولی د تیلیفون په واسطه، د پیغام په واسطه او د لوکاټا ټیکسټ وېب سائیټ په واسطه هم ورکولای شئ.

نوي غړي کله چه په سکیم کښی ګډون وکړي، ورته به ټول انفارمیسون او کوپون هم ورکول کیږي.

'Locata HOME' ، دا لاندینی تفصیلات ورکوي:

- هر پیدا کېدونکی کور
- د اونی کرایه
- د هغه څختن څوک دی
- د دی د پاره څوک بولی ورکولای شی
- دا به کله تیار وي
- د دی د پاره د نورو بروګانو خلک هم بولی ورکولای شی؟
- چیرته چی برابروي، محلی انفارمیسون؛ د مثال په توګه مکتبونه، ترانسپورت، دوکانونه او نور

غړي به یا خو کرایه داران وي ( په عمومی ډول دا د یوهَ انډیوال محلی قدرت محفوظ کرایه داران دي او یا د یوهَ محلی هاوسنګ ایسوسی ایشن یقینی کرایه داران دي) او یا د کورونو غوښتونکي وي چه ورکی بی کوره خلک او د کورونو په رجستر کسی ثبت نور کسان هم وي.

ټول غړي په یوهَ ډله کی اچول کیږی. تاسو ته به د کورد خاوند او یا د محلی قدرت له خوا چېرته چه په رجستر کښی ستاسو نوم لیکل شوېدي، تاسو ته به ووئیل شی چه تاسو په کومه ډله کسی یاست. د هرې ډلې په دننه پېل به په نېټې باندی تکیه لري.

**د ډلو لنډیز لاندی لیکل شوېدی. دا د کټګوریو بشپړ جدول نه دی او که تاسو دا انفارمیسون غواړئ چه څنګه سکیم ستاسو پوری اړه لري، نو تاسو د هاوسنګ د هغه دفتر سره خبرې کولای شئ، چیرته چه ستاسو نوم رجستر شوېدی.**

**ډله الف (اضطراری/ ترټولونه پېل)**

- تاسو د صحت کوم داسی وضیعت لرئ چه ستاسو ژوند په خطر کښی دی او ستاسو موجوده کورپه هغه وضیعت باندی جدی اغېزه کوي، او یا د موجوده کور څخه د خوځېدو ځینی بل اضطراري علت دی.
- تاسو بی کوره یاست او د پېل په اساس د کور ضرورت لرئ. تاسو په کومې عارضی هستوګنې کښی یاست او د کور خاوند جائداد بېرته غواړي او یا چه عارضی هستوګنه ستاسو د پاره موافقه نه ده او ستاسو لپاره د کوم بل موافق هستوګنځي پیدا کول ممکن نه دي.

- د هاوسنګ مقاماتو د ټولینزو خدمتونو دا سپارښت منلی دی چه ستاسو د مستقل هستو ګنځی ضرورت دی چه تاسو د بل چا ماشومان روزلی شئ او یا یی په خپلوی نېولی شئ.
- تاسو داسی کرایه دار یاست چه په موجوده کور کی په اوسېدو د تشدد له کبله ستاسو ځان په خطر کی دی. لطفاً په یاد ساتئ چه دا یوازی د کونسل/ هاؤسنګ ایسوسی ایشن په کرایه دارانو مربوطه ده.
- تاسو د عسکرو په شان د کوم خدمت پخوانی ملازم یاست چاته چه د قرار داد په اساس کونسل بیاد کور د ورکولو مکلفیت لري.
- تاسو داسی کرایه دار یاست چه د دی د پاره د کور څخه خوځېدو ته اړیاست چه کور دې په نړېدو دی او یا بیا په و دا نېدو دی.
- تاسو داسی کرایه دار یاست چه د توافق شوي کور ته د خوځېدو اړتیا لرئ.
- تاسو په کوم توافق شوي کور کښی کرایه دار یاست چه ستاسو اوس اړتیا نه ده او بل څوک ترېنه استفاده کولای شی.
- تاسو په کوم داسی کور کښی کرایه دار یاست چه د خوب دوه یا زیاتې کوټې لري او تاسو چمتو یاست چه د خوب د یوې کوټې کور ته و خوځېږئ او یا د خوب دوه کوټې پرېږ دئ.
- تاسو د کونسل د کرای داری ځای نیوونکی یاست او تاسو یوې سټوډیو او یاد خوب د یوې کوټې د پاره منل شوي یاست او یا تاسو د خوب دوې یا نورې کوټې په پرېخودو یاست.
- تاسو په کوم داسی هستوګنځي کی یاست چه په لازمی ډول د پیرودلو تر امر لاندی دی او /یاکونسل تاسو د دغه کور څخه د خوځولو قانونی وظیفه لري.

ډله ب (د خوځېدو عاجل ضرورت)

- تاسو د خپل کور د څختن په موافقه، په ډاکټری او یا په ټولینزو علتونو د خوځېدو فوری حاجت لرئ.
- تاسو په عاجل ډول خوځېدو ته اړ یاست ځکه چه تاسو په تنګ او پښېمانه کېږئ او د تشدد د اخطار سره مخامخ یاست (لطفاً په یاد ساتئ چه دا د کونسل/د هاؤسنګ ایسوسی ایشن په کرایه دارانو مربوطه ده).
- تاسو بی کوره یاست، کونسل تاسو ته بیا د کور د ورکولو وظیفه په غاړه کړېده او تاسو د بستر او د نارې، کوم هو سټل او یا په عارضی ډول د کور د غړیو او یا د ملګرو سره هستوګنه لرئ.
- تاسو هیڅ کرائی داری نه لرئ؟ ستاسو سره یو متکی ماشوم دی، د خوب کوټه نه لرئ او د چا سره نورې اسانتیا وې په ګډه استعمالوئ.
- تاسو د پاملرنې او د مرستې د کور څخه د خوځېدو حاجت لرئ او د سهمیی د یوهَ خصوصی سکیم ترلاندی تاسو ته بیا د کور په ورکولو موافقه شوېده.
- تاسو یو داسی کرایه دار یاست چه په لوي هستوګنځی کښی اوسئ لاکن د خوب یوه اضافی کوټه پریخودو ته چی‌یمتو یاست او بیاهم د خوب دوه یا درې کوټې غواړئ.
- تاسو یو کرایه دار یاست او ستاسو کور په نړېدو دی او یا د قانون په نظر کښی تاسو د بیړباړ په شان په کور کښی او سېږئ او یا پدی باندی موافقه شوېده چه په انتظامی علتونو ستاسو خوځېدل ضرور دي.

- تاسو د کونسل د کرایه دارۍ نیوونکی یاست او د خوب د دوویا نورو کوټو وړوکي هستوګنځی ته د خوځېدو د پاره منل شوي یاست.
- تاسو یو پخوانی کرایه دار یاست او هر کله چه تاسو د تېرې شوې کرائ دارۍ څخه لاس واخېست، نو کونسل تاسو ته په راتلونکی کسی بیا د کور د ورکولو مسولیت په غاړه کړی و.

ډله پ (پژېندل شوی د کور حاجت)

- تاسو په ډاکټرۍ علتونو یا د زیاتو کسانو د ځایولو او یا د ناولو اوضاعو پشان په سببونو خوځېدو ته اړیاست.
- د اجتماعی خدمتونو د پاملرنې تر یوهٔ پلان لاندی د خوځېدو ستاسو حاجت پېژندل شوېدی چه ټولینزه سختی دې لری کړی شی.
- تاسو پوخ کس یاست چه د سرپټونی هستوګنځي ته اړتیا لرئ.
- تاسو بی کوره یاست لاکن د الف او د ب د ډلو استحقاق نه لرئ.

ډله ت

- نور ټول د تبادلې کرایه داران او کور غوښتونکی چه د پورتنو الف. ب او پ د پیل په ډلو کی نه راځي.

**زه څنګه د لوکاټا غړی کیدای شم؟**

که تاسو د کورونو د څختنانو د یوهٔ انډیوال یو کرایه دار یاست او د کور د بدلولو لپاره نوم دې رجستر کړېدی نو تاسو پخپله د لوکاټا غړی کېږئ. او که تاسو د کور غوښتونکی یاست او هغه څوک چه بی کوره وي او د چا نوم د یوهٔ انډیوال کونسل د کورونو په رجستر کښی لیکل شوی وي، نو هغه هم پخپله د لوکاټا غړي کیږي.

نورو ته بایده دي چه خپل نومونه د خپل کور د څختن او یا د هستوګنې د شعبی د محلی کونسل په واسطه رجستر کړي.

**د مساواتو په اساس رسېدنه – کومه مرسته راته برابره شی؟**

د کورونو سره اړه لرونکي په بشپړ ډول روزل شوي کارکوونکي، اجتماعی کارګران او داو طلبانه ادارې کمزورو درخواست ورکوونکو او هغو کسانو ته چه د ژبې او یا د لوستلو مشکلات لري، سلا ورکولو ته چمتو وي، د پاره ددې چه هغوی دې د کور دلټولو د پاره د 'Locata HOME' په استعمالولو کښی درسره مرسته وکړی شی.

باید هر څوک بیا د کور د موندلو لپاره د 'Locata HOME' څخه استفاده وکړی. که تاسو لاس ته د راتلونکو کورونو د پاره بولۍ ور نه کړئ نو تاسو ته د کور هیڅ پېشکش نه شی کېدای.

**که زه د سرپټونی په هستو ګنځی کی اوسېدل غواړم، نو څه به وشی؟**

د سرپټونی هستوګنځی د ځینی مقصد د پاره و دان شوي ځایونه دي، او دا په خصوصی ډول د سپین ږیرو او سپین سرو د پاره جوړ کړی شویدي چه هغوی زیاتره یوازی ژوند کولای شی. د سرپټونی په زیاتو سکیمونو کښی یو وارډن یا د سرپټونی د سکیم منتظم په موقعه موجود وي چه مرسته وکړی شی او سلا ورکولای شی. د سرپټونی د هستوګنځی د پاره د بولۍ د ورکولو څخه مخکښی د دغه راز

هستوګنځی د استحقاق په باب ستاسو ټاکنه ضرور وي. د خپل استحقاق په باب او د پېشکش د نورو معلوماتو لپاره لطفاً د کور د څختن او یا د هاوسنګ د شعبې سره تماس ونیسئ.

**که زه د صحت او یا د دماغی صحت کوم تکلیف لرم، نو څه به وشی؟**

که تاسو او یا ستاسو د کورنۍ کوم بل غړی دصحت او یا د دماغی صحت کوم تکلیف لري او یا ځینی خصوصی اړتیا لري نو باید تاسو د خپل قضاوت یوم فارم ډک کړئ. پدی کی به دا پوښتنی وشی چه د صحت وضیعت څنګه دی او څنګه په موجوده کور کښی دا وضیعت لاهم خراب شوېدی او ولې تاسی د دې ځای نه خوځېدل غواړئ. دا ضروری نه ده چه تاسو د ډاکټر څخه یومیډیکل خط ترلاسه کړئ. نو زمونږ ډاکټری مشاور به ستاسو عرضداشت وګوري او تصمیم به ونیسی چه د کور تبدیلی به ستاسو سره مرسته وکړي او څومره زر ستاسو خوځېدنه ضروری ده.

**که زما په کورنۍ کی څوک د خوځېدنی مشکلات لري نو څه به وشی؟**

هر کله چه تاسو د صحت په باب د خپل قضاوت فارم ډک کړئ، نو ستاسو څخه به دا وپوښتل شی چه تاسو او ستاسو د کورنۍ کوم بل غړی د ګرځېدو او یا په زینې د ختلو مشکلات لري او کنه. د دې نه به پدغه خبره اغېزه وشی چه مونږ تاسو ته د کوم ډول کور پېشکش وکړو. د مثال په توګه چی ستاسو د کورنۍ یو غړی څرخ لرونکې چوکۍ استعمالوی، نو مونږ یو مسلکی معالج ستاسو کور ته استولی شو چه د هستوګنځی په باب د کورنۍ د اړتیاو اندازه ولګوي.

که دا موافقه وشوه چه تاسو د توافق ځینی خصوصی اړتیا لرئ، نو تاسو به د لاندینو ډلو څخه په یوې کښی اچول کیږئ:

- د خوځېدنی ډله 1 – په کور کښی دننه او د باندی د څرخ لرونکې چوکۍ استعمال کوونکې.
- د خوځېدنی ډله 2 – هغه خلک چه د پوړۍ او د زینې استعمال نه شی کولای او کله کله څرخ لرونکې چوکۍ استعمالوي.
- د خوځېدنی ډله 3 – یوازی یوه یا دوه پوړۍ یا زینه استعمالولی شی.

د خوځېدنی ستاسو په ډله کښی به د خلکو لپاره هستو ګنځې په اشتهارونو کښی په نښه کړی شی او د دغو ځایونو د پاره پیل به په عمومی ډول د خوځېدنی ستاسو په ډله کښی ورکول کیږي.

**که زما حالات بدل شی نو څه به وشی؟**

باید تاسو کونسل / هاوسنګ ایسوسی ایشن د خپلی کورنۍ، د ډاکټری وضیعت او د هستوګنې په وضیعت کښی د ټولو تبدیلیو څخه خبر ساتئ. دا ډېره زیاته ضروری ده ځکه چه د دې نه ستاسو ډله او د ځینو کورونو د پاره ستاسو په استحقاق کښی بدلون راتلای شی.

**زه څنګه د يوهَ کور د پاره بولی ورکولای شم؟**

تاسو د 'Locata HOME'، په هره ګڼه کښی د اعلان شوو جائدادونو څخه تر دريو جائدادونو پورې يوازی د يوهَ کوپون په لېږلو، د تيليفون په واسطه او يا د ټيکسټ (متن) په پيغام بولی ورکولای شئ. تاسو د " مېک ژوور بډ " د مخ په استعمالولو ان لائن هم بولی ورکولای شئ. د لوکاټا له خوا څوابونه ورته کيږي او د تصحيح د پاره ګوري چه هر يو بولی ورکوونکی د هغه جائداد د پاره حق لري اوکنه. بيا لوکاټا د مستحقو کورنيو نومونه د پيل په اساس په جدول کښی ليکی او تيار شوی فهرست د کور څختن ته لېږي.

<u>**د انټرنېټ وېب سائيټ په استعمالولو بولی ورکول**</u>

| | | |
|---|---|---|
| 1 | د خپل انټرنېټ براوزر پرانزئ او څئ: | **www.locata.org** |
| 2 | په لاګ ان لنک کلک کړئ | د ابه تاسو لاګ ان سکرين ته بوځي |
| 3 | د خپل برو د دريو حروفو اختصار سيليکټ کړئ او بيا د خپل LIN نمبر د نمبر بربنه اينټر کړئ: | د مثال په توګه که تاسو د ايلنګ غړی ياست چه نمبر يی EAL 12345 دی، نو تاسو به د ډراپ ډاون جدول څخه "EAL" سيليکټ کړئ او بيا د دې سره په جخت ځای کی "12345" ټائپ کړئ. |
| 4 | په ورکړ شوي ځاي کښی د خپلې زوکړی نېټه اينټر کړئ | د مثال په توګه 31 جنوری 1960 |
| 5 | دا به تاسو د غړيو مخ ته بوځي. دلته تاسو د جائدادونو په باب معلومات لټولی شئ، فری شيټ ډاون لوډ کولای شئ او خپله بولی ورکولای شئ. د بوليو د ورکولو لپاره په بډ فار پراپرټيز لنک کلک کړئ. | دا به تاسو د بوليو مخ ته بوځی. |
| 6 | د بولی د ورکولو لپاره د جائداد د دريو حروفو نمبر " د بولی 1" " د بولی 2" او " د بولی 3" سره په جخت ځايونو کښی ټائپ کړئ. | د مثال په توګه که تاسو د 428، 387 او 621 نمبرونو په حواله دريو جائدادونو لپاره بولی ورکوئ، نو " د بولی 1" ، مخې ته "428" ټائپ کړئ، " د بولی 2" مخې ته "387" ټائپ کړئ او " د بولی 3" ، مخې ته "621" ټائپ کړئ. |
| 7 | په (سبمټ بډز) " د بولی " بټن باندی کلک کړئ | |
| | | |
| د غه دي ستاسو بولی ورکړ شويدي | | |

# د ټېکسټ (متن) د پیغام په واسطه بولۍ ورکول

<table dir="rtl">
<tr><th></th><th>عمل</th><th>مثال</th></tr>
<tr><td>1</td><td>د بولیو د ورکولو شروع کول</td><td>یو نوی ټېکسټ (متن) پیغام پرانیزئ</td></tr>
<tr><td>2</td><td>د کیز (کلی ګانو) په واسطه خپل ایل اي این(LIN) نمبر اېنټر کړئ:</td><td>بی ار اي نمبر(BRE) 12345</td></tr>
<tr><td>3</td><td>بیا سمدستې د هېش مارک (hash mark) په واسطه تعقیب کړئ:</td><td>بی ار اي نمبر(BRE) 12345</td></tr>
<tr><td>4</td><td>اوس باید تاسو د خپلې لومړۍ بولۍ د اعلان حواله نمبر اینټر کړئ او ورپسې سمدستې هېش مارک واچوئ:</td><td>بی ار اي نمبر(BRE) #12345#456</td></tr>
<tr><td colspan="3">که تاسو بولۍ ورکول خلاص کړېدی نو ورولېږئ. که نه دي کړي نو په لاندینو هدائتونو عمل وکړئ.</td></tr>
<tr><td>5</td><td>اوس باید تاسو د خپلې دوهمې بولۍ د اعلان حواله نمبر اینټر کړئ او ورپسې سمدستی هېش مارک واچوئ:</td><td>5 بی ار اي #12345#456#491</td></tr>
<tr><td colspan="3">که تاسو بولۍ ورکول خلاص کړیدي نو ورولېږئ. که نه دي کړي نو په لاندینو هدائتونو عمل وکړئ.</td></tr>
<tr><td>6</td><td>اوس باید تاسو د خپلې دریمې بولۍ د اعلان حواله نمبر اینټر کړئ او ورپسې سمدستی هېش مارک واچوئ:</td><td>بی ار اي#12345#456#491#444</td></tr>
<tr><td>7</td><td>هر کله چه تاسو ټولې بولۍ ورکړې وي نو د خپل ټیکسټ پیغام بولې ورولېږئ:</td><td>"ورولېږئ" "Send"</td></tr>
<tr><td>8</td><td>تاسو بولې پدی نمبر لېږئ:</td><td>07800 140767</td></tr>
</table>

- د موبائیل تیلیفونونو زیاتره شرکتونه د ایس ایم ایس (SMS) د ټېکسټ د پیغامونو د پاره په یوهَ ټیکسټ تقریباً 10p اخلی
- په پیغام کښی د نمبرونو د جوړولو لپاره د کیز کلی ګانو پرېس کولو ته دوام ورکوئ تر څو چه تاسو رقم ته ورسېږئ او سیلیکټ کړئ.
- په زیاترو موبائیل ټیلیفونونو کښی د هېش د کېرېکټر د لټولو د پاره لومړی د سټار کلی پرېس کړئ، بیا د هېش مارک سیلیکټ کړئ.
- تاسو خپلې بولۍ دواړه په اوچتو او په ټیټو حالتونو کښی اینټر کړی شئ
- د لېږلو څخه مخکښی خپل ایل اي این (LIN) نمبر او بولۍ د تصحیح د پاره وګورئ

# د تیلیفون په واسطه بولۍ ورکول

| | عمل | مثال |
|---|---|---|
| | **عمل** | **مثال** |
| 1 | د بولۍ د شروع کولو لپاره تیلیفون نمبر : | **0906 294 2012** |
| 2 | تاسو به دا اورئ: | "Welcome to the Locata Property Line, Please select the Borough or RSL you are registered with from the following list." ("د لوکاټا د پراپرټۍ د لائن په راتلو درته هر کلی وایو. لطفاً د لاندیني جدول څخه هغه برو یا ار ایس ایل سیلیکټ کړئ، د کوم سره چه تاسو رجستر شوي یاست".) |
| | 1 پرېس کړئ<br>2 پرېس کړئ<br>3 پرېس کړئ<br>4 پرېس کړئ<br>5 پرېس کړئ<br>6 پرېس کړئ<br>7 پرېس کړئ | For Brent (د برینټ د پاره)<br>For Ealing (د ایلنګ د پاره)<br>For Harrow (د هېرو د پاره)<br>For Hillingdon (د هلنګډن د پاره )<br>For Hounslow (د هونسلو د پاره)<br>For Ealing Family Housing Association (د اېلنګ د فیملی هاوسنګ د ایسو سی اېشن د پاره)<br>For PCHA (د پی سی ایچ اې د پاره) |
| 3 | بیا به تاسو دا اورئ: | "Thank you. Please enter the number section of your LIN number." ("تشکر. لطفاً د خپل ایل ای اېن نمبر نمبر سېکشن اینټر کړئ") |
| 4 | اوس تاسو یوازی دخپل ایل ای اېن نمبر د نمبرونو برېنه اینټر کړئ. هر کله چه تاسو صحیح نمبر اېنټر کړو، تاسو به دا اورئ: | "Thank you. Please enter the day number of your birth date" e.g. (" تشکر. لطفاً د خپلی زوکړې د نېټې د ورځې عدد اینټر کړئ. د مثال په توګه) د 16/04/60 عدد 16 دی. د 08/01/58 عدد 08 دی. (باید د یواځنی عدد څخه مخکښی 0 واچوئ) د 23/06/31 عدد 23 دی. |
| 5 | اوس تاسو د خپلې زوکړې د نېټې د ورځې عدد اینټر کړئ. هر کله چه تاسو صحیح نمبر اینټر کړو نو تاسو به دا اورئ: | "Thank you. Please enter your first property reference bid number." (" تشکر. لطفاً د لومړي جائداد د حواله بولۍ نمبر اینټر کړئ.") |
| 6 | هر کله چه تاسو په صحیح ډول د جائداد حواله نمبر واچاوه، نو تاسو به دا اورئ: | "Thank you. If you would like to add an additional bid press 1 or press 2 to complete your bids." |

| | | |
|---|---|---|
| (" تشکر . که تاسو یوهٔ بله بولی ورکول غواړئ نو 1 پرېس کړئ او یا د خپلې بولۍ د بس کولو لپاره 2 پرېس کړئ.") | | |
| "Please enter your second property bid number or press the * key to complete your bidding."<br>("لطفاً د خپل دوهم جائداد بولۍ نمبر اینټر کړی او یا د خپلې بولۍ د بس کولو لپاره * کلی پرېس کړئ.") | که تاسو 1 پرېس کړو، نو تاسو به دا اورئ: | 7 |
| If you would like to add an additional bid, please press 1 now or press 2 to complete your bidding."<br>("که تاسو یوهٔ بله بولی ورکول غواړئ، نو 1 پرېس کړئ او یا د خپلې بولۍ د بس کولو لپاره 2 پرېس کړئ.") | هر کله چه تاسو د دوهم جائداد حواله نمبر په صحیح ډول اینټر کړو، تاسو به دا اورئ: | 8 |
| "Thank you for bidding on the Locata Property line."<br>("د لوکاټا د پراپرټی په لائن باندی د بولۍ د ورکولو لپاره تشکر.") | کله چه تاسو بولۍ ورکول خلاص کړو، نو تاسو به دا اورئ: | 9 |
| که تاسو څنی غلطۍ کړې وي، نو تاسو به داسې هدایتونه اورئ: | | |
| "I am sorry, the LIN number you have entered is not recognised. Please try again."<br>("خواشینی یم، ایل ای این نمبر چه تاسو اینټر کړېدی هغه نه پېژندل کیږي. مهربانی وکړئ او بیا کوښښ وکړئ.") | که تاسو د خپل نمبر په باب کومه غلطی کړېده نو تاسو به دا اورئ: | 10 |
| پدغه حالت کی له پامه سره تیلیفون وکړئ او بیا نمبر اینټر کړئ او دا یقینی وګرځوئ چه نمبر صحیح دی. | | |
| "I am sorry, the LIN number you have entered is not found. Please check with your registering partner and call again."<br>"خواشینی یم، ستاسو له خوا اینټر کړی شوی نمبر نه موندل کیږي. د خپل رجستر کوونکي انډیوال سره د تصحیح لپاره ګورئ او بیا مراجعه وکړئ." | که تاسو نورې غلطۍ وکړئ نو به تاسو دا اورئ: | 11 |

# د کوپون په واسطه بولی ورکول

| | |
|---|---|
| ستاسو په کوپون باندی ستاسو نوم او ستاسو (LIN) (د لوکاتا شناخت نمبر) لیکل شوېدی. لطفاً د تصحیح د پاره گورئ چه دا تفصیلات درست دي. | باید تاسو د حواله نمبر د اړه لرونکي دوهم عدد په مقابل کی په دوهم ستون کی X واچوئ. |
| تاسو د فری شیټ د هرې گڼې لپاره تر دریو جائدادو نو پوری بولۍ ورکولای شئ. | باید تاسو د حواله نمبر د اړه لرونکي دریم عدد په مقابل کسی په دریم ستون کی X واچوئ. |
| هر جائداد د دریو عددونو څخه جمله یو حواله نمبر لري چه د'Locata HOME' په فری شیټ کی د جائدادونو په اعلان کی ښودل شوي وي. | د'Locata HOME' د فري شیټ په مخ ښودلې شوې نېټه، کوم څخه چی تاسو د جائدادونو د پاره بولۍ ورکوئ، اینټر کړئ. |
| د مثال په توگه که تاسو د دریو جائدادونو د پاره بولۍ ورکول غواړئ چه د دریو عددونو څخه جمله دي: 456، 491 او 444، نو تاسو کوپون داسی په نښنه کړئ لکه چه د مثال په توگه په کاغذ باندی ښودل شویدي. باید تاسو د حواله نمبر د اړه لرونکي لومړی عدد په مقابل کی په لومړی ستون X واچوئ. | مهربانی وکړئ او خپل کوپون د پوستی په واسطه لوکاتا (Locata) ته ورولېږئ. په کوپون باندی له مخکښی څخه پته لیکلې شوېده، لاکن باید تاسو ټکټ ولگوئ. |



# د تیلیفون په واسطه د کوپونونو د پاره غوښتنه

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1 | د کوپونونو د غوښتلو د پاره پدغه نمبر تیلیفون وکړئ: | **0906 294 2013** | |
| 2 | تاسو به دا اورئ:<br><br>1 پرېس کړئ<br>2 پرېس کړئ<br>3 پرېس کړئ<br>4 پرېس کړئ<br>5 پرېس کړئ<br>6 پرېس کړئ<br>7 پرېس کړئ | "Welcome to the Locata Coupon line. Please select the Borough or RSL you are registered with from the following list."<br>("د لوکاټا کوپن لائن په راتلو ستاسو هر کلی کوو. لطفاً د لاندینی جدول څخه هغه برو یا ار ایس ایل سیلیکټ کړئ چه ورسره تاسو رجستر شوي یاست." )<br>For Brent (د برینټ د پاره)<br>For Ealing (د ایلنگ د پاره)<br>For Harrow (د هېرو د پاره)<br>For Hillingdon (د هلنگډن د پاره )<br>For Hounslow (د هونسلو د پاره)<br>Association For Ealing Family Housing<br>(د ایلنگ د فیملی هاوسنگ د ایسو سی ایشن د پاره)<br>For PCHA (د پی سی ایچ اې د پاره) | |
| 3 | بیا به تاسو دا اورئ: | "Thank you. Please enter the number section of your LIN number."<br>("تشکر. لطفاً د خپل ایل ای اېن نمبر نمبر سېکشن اینټر کړئ)" | |
| 4 | اوس باید تاسو یوازی دخپل ایل ای اېن نمبر د نمبرونو برښه اینټر کړئ. هر کله چه تاسو صحیح نمبر اېنټر کړو، تاسو به دا اورئ: | "Thank you. Please enter the day number of your birth date" e.g.<br>("تشکر. لطفاً د خپلی زوکړې د نېټې د ورځې عدد اینټر کړئ. د مثال په توگه) د 16/04/60 عدد 16 دی. د 08/01/58 عدد 08 دی. (باید د یواځنی عدد څخه مخکښی0 واچوئ) د 23/06/31 عدد23 دی. | |

## زه په خپلو بولیو څنگه عکس العمل معلومولی شم؟

په کرائی ورکړ شوي ټول جائدادونه د 'Locata HOME' د مجلی د عکس العمل په برښه کی ښودل کیږي. مونږ به تاسو ته د هر جائداد د پاره د بولۍ د ورکوونکو شمېره درښیو او د بریالي بولی د ورکوونکي ډله او د رجستریشن نېټه هم درښیو. د دې په واسطه به د بریالیو کسانو په مقابل کی ستاسود پیل د خپلې طبقې په اندازه لګولوکی مرسته وشی. نو که بیا تاسو دا کار ګرندی کول غواړئ، نوتاسو د سیمې او یا د جائداد د ځرنګوالي په باب پخپلو حاجتونو کی زیات یا کم کولای شئ.

## د نوي کور غوره کولو ته پنځه گامونه

**گام 1 غړیتوب**

تاسو یو موجوده کرایه دار کیدی شئ چه کور بدلول غواړئ، تاسو پدغه وخت بی کوره کېدی شئ، تاسو د شخصی ساحې د یوهَ کور د خاوند څخه کور په کرائی اخستی وي، تاسو د کور څختن/ اوسېدونکی کېدی شئ او یا تاسو د کورنۍ او یا د ملګرو سره اوسېږئ.

**گام 2 رجسترېشن**

ستاسو محلی کونسل یا هاوسنګ ایسوسی ایشن به ستاسو د رجسترېشن او ستاسو د ډلې په لیکلو کښی تائید کوي.

**گام 3 غوره کول**

تاسو په محلی توګه په ډېرو ځایونو کی زمونږ مجله 'Locata HOME' وېړیا اخستی شئ. تاسو د خپلې ښوښې د کور د بولۍ د ورکولو د پاره یو کوپون استعمالولی شئ، تیلیفون کولای شئ، ټیکسټ (متن) لېږلی شئ او یا زمونږ ویب سائیټ ته تلی شئ.

**گام 4 پېشکش**

که ستاسو بولی تر ټولو نه اوچت وي نو ستاسو محلی کونسل یا هاؤسنګ ایسوسی ایشن به ستاسو سره تماس ونیسی او ستاسو له خوا د جائداد د کتلو د پاره ترتیبات ونیسی.

**گام 5 عکس العمل**

'Locata HOME' به دا تفصیلات خپاره کړي چه د تېرو ګڼو ترمخې څومره خلکو د جائدادونو د پاره درخواستونه ورکړی وو.

**د هستوګنځو د پاره کوم کوم نور بدلونه دی؟**

په لویدیز لنډن کښی د کورونو زښت کموالی دی. نو ځکه تر دغه سکیم لاندی د هر چا د کورونو مسایل حل نشی کېدې. د زیاترو غړیو د پاره د بیا کورونو د ترلاسه کولو د پاره به ډېره موده پکار وي او په ب او پ او ت ډلو کښی غړی به په محلی سېمه کښی بیا د کور د موندلو بیخی کم امکان لري. خلکو ته د نورو بدلونو د ورکولو لپاره به مونږ د لنډن څخه د باندی په سېمو کښی د کوررونو د شته والی اعلان کوو لکه څنګه چه په مډلینډز کی چیرته چه غوښتنې کمې دی، او په لویدیز لنډن کښی د شریکو ملکیتونو د کورونو د پاره هم. د 'Locata HOME' په مجلی کی د شخصی کرایې د جائدادونو اعلانونه هم شامل کېدونکي دي.

| د کورونو د څختنانو سره د تماس تفصیلات | | د تیلیفون نمبرونه | |
|---|---|---|---|
| د لنډن برېنټ برو | | | |
| (London Borough of Brent) | | 020 8937 2000 | |
| Mahatma Ghandi House | | | |
| 34 Wembley Hill Road | | | |
| Wembley, Middlesex | | | |
| HA9 8AD | | | |
| د لنډن ايلنګ برو | | | |
| (London Borough of Ealing) | | 020 8825 7274 | |
| Housing Resource Centre | | | |
| Town Hall Annexe | | | |
| New Broadway | | | |
| London | | | |
| W5 2BY | | | |
| د لنډن هېرو برو | | | |
| (London Borough of Harrow) | وروستی نومونه | | |
| Youngmans 2 Building | د A څخه تر Cg پورې | 020 8424 1116 | |
| PO Box 65 | د Ch څخه تر G پورې | 020 8863 5611 | اېکسټېنشن.3870 |
| Civic Centre | د H څخه تر Lg پورې | 020 8424 1706 | |
| Station Road | د Lh څخه تر O پورې | 020 8424 1115 | |
| Harrow, Middlesex | د P څخه تر Sg پورې | 020 8863 5611 | اېکسټېنشن. 3738 |
| HA1 2XG | د Sh څخه تر Z پورې | 020 8863 5611 | اېکسټېنشن.3663 |
| ااي مېل: locatahelp@harrow.gov.uk | | | |
| د لنډن هلنګډن برو | | | |
| (London Borough of Hillingdon) | | 01895 250 328 | |
| Housing Services | | 01895 277 779 | |
| Civic Centre | | 01895 250 147 | |
| High Street | | 01895 250 389 | |
| Uxbridge, Middlesex | | | |
| UB8 1UW | | | |
| اي مېل: nmailbox@hillingdon.gov.uk | | | |
| د لنډن هونسلو برو | | | |
| (London Borough of Hounslow) | | 020 8583 3815 | |
| The Civic Centre | | 020 8583 4405 | |
| Lampton Road | | | |
| Hounslow | | | |
| TW3 4DN | | | |
| د ايلنګ فېملی هاوسنګ ايسوسی اېشن | | | |
| (Ealing Family Housing Association) | | 020 8621 9898 | |
| St James House | | | |
| 105-113 Broadway | | | |
| West Ealing | | | |
| London | | | |
| W13 9BE | | | |
| اي مېل:csc.queries@chq.org.uk | | | |
| د پېراډايم هاوسنګ ګروپ | | | |
| (Paradigm Housing Group) | | 0845 845 5517 | |
| 1 White Hill | | | |
| Chesham | | | |
| Bucks | | | |
| HP5 1AB | | | |

د پی سی اېچ اې هاوسنګ ایسوسی اېشن
(PCHA Housing Association)
324 Harrow Road
London
W9 2HP
020 8537 4537